مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

حبیب الرحمن رحیمی ۲۰۲۲/۰۸/۲۹

د پختکي ځاله

لمر وړانګو ته د مخ دېوال په منځنۍ برخه کي د سوېل په لور پنځه – شپږ پل هسکي چي قدم په کي جوړ راته ، سور يي هومره چي پنځېدونکي جوړه په کي په تشريفاتي دود پرته له ځنډه په کي تللی شي ، همدا ځانګړني د مانۍ په عمومي دروازه کي هم ترسترګو ګيږي ، ښي اړخ ته را هسک شوی ديوال چي ډېري برخي ته کړکۍ ښکلا وربښلي ده ، د رنګونو يوځای کېدو د دری پوړيزه تسلسل د ماښام له لورينو د شفق د نکريزو لمبه د له سترګو انځورونه اخلي ، له تني لوېشت لوړ د دريم پوړ په دريمه برخه کي مينه ګرکي د خپل سيوري سره لوبي کوي ، د ژوند له هري شيبي خوند اخلي ، په کډه د ژوندانه اړخونه پالي ، د زغم پيغام له ځان سره وړي ، د ښيښي له ورپايه په خواړه ترنم کي د پالونکي رب په ستاينه هغه کايناتو ته چي په انګړ کي منتظر دي ،پاڼود راغلو مېلمنو په پار نرم شور اچولی،ګلان هم په خپله حلقه کي يو څه وايي ،بوراګان هم په دغه راز ځان پوهول غواړي ،شاپرکونه هم څه وړي راوړي، غالبوزي له هر لوري د ماحول څار ګري کوي ، پاچا او ملکه پدي وخت کي په شاهي جامو کي له ګنبدبني دروازي راووتل، هرڅه غوږ غوږ شول ،په خرپ او ترپ سره خاموشي ماته شوه ، پاچا د لرګيني تختي شا ته ودرېد ، چپنه يي په ځان کي وځنډله ، شمله يي له ډېرلېري ښکارېده، ملکه هم نږدي ودرېده ، څنګ ته يي درېدونکي خلک منظم ودرېدل هسي چي په کي هېڅ دمه نه وي.

څوشيبي د دمي جوړوني په موخه موسکی شو،
وينا پيلوي:

د کايناتو د پالونکي رب په سپېڅلي نامه ،
د طبيعت له هر اړخه راغلو مېلمنو!
اسلام عليکم
شکر او ستاينه د هغه واکمن لپاره وي چي د ځمکي مخ يي په راز راز ښکلا ګانو پوښلي ، او ژوندي مخلوقات يي جوړه پيدا کړي دي.

زموږ او ستاسو ژوند د وخت يوه برخه ده ، مهالويش ولرئ، هيلي را وټوکوئ ، په موخو پسي ولاړ شئ ، په کي د هنر له بډايه شتمنۍ ګټه واخلئ، همدا شان ژوند د موخو يوه ټولګه ده چي پالل يي نه ستړي کېدونکي مبارزه غواړي او که غواړئ چي خوبونه مو په ريښتني ډول وګورئ ، پرېکنده تصميم ولرئ او د عمل په جامه کي ور پسي ورشئ.

افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکني د ليکنيزي بڼي پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکي په ځير و لولئ